انجنیر سلطان جان کلیوال

۲۰۲۲/۰٤/۰٦

# غُصـه

را لوی چی شی غُصه کی، نو زړیږی په غصه کی
خبره سمه سمه وی، ورانیږی په غُصه کی

کرلي چی په زړه کی کومه مینه در ته مور ده
دا مینه دی هم زړه نه، خارجیږی په غصه کی

پرته کرکه سینه کی، که قابو نه شی په وخت
جوړیږی ورنه بم او بیا چاودیږی په غصه کی

غُصو ده تباه کړی، دا دنیا په څو کرت
نن هم لکه پرون، بیا تباه کیږی په غصه کی

غصه زهري میوه ده، پیدا کیږی له حسد
هم زړه او هم ماغزه، زهرجن کیږی په غصه کی

«لا حول ولا قوة»، ښه درمل دی د غصي
په غیر له دي درمل، سړی غرقیږی په غصه کی

روان که یی جانانه! د غصي په کره لار
ملګری کلیوال دی، پردی کیږی په غصه کی

دسمبر/۲۶/۲۰۲۱
ایجکس- تورنتو - کانادا


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com



برای مطالب دیگر انجنیر سلطان جان کلیوال روی عکس کلیک کنید